امجد علي مغلکي

# پښتون

زمونږ مړانه او غېرت مثال دے
نۀ دهشت ګرد يو نۀ بمونه جوړوؤ
مونږه بچي د ابدالي يادېږو
مونږ ته بس امن خپل روزګار راکړئ
د يوې سختې په شاه شوي نۀ يو
مونږ په خودکشو باندې مۀ يادوئ
مونږ په نامه د ننګيالي يادېږو
مونږ ته تعليم او خپل اختيار راکړئ

داسې حالات په مونږ راغلي دي نن
چې په وطن مو ده راغلې کله
د ګېر چاپېر نه راګېر شوي يو مونږ
په هر مېدان مو خپل وطن ګټلے
د خپلې خاورې مشرانو واورئ
نۀ يو د چا د خېراتو عادت
په خپل وطن بې اسرې شوي يو مونږ
تل مو په خپلو متو ځان ساتلے

يو بل ته ګورو ټول اوتر اوتر يو
د وخت روټې په خپل محنت غواړو
په خپل وطن کښې مونږه در په در يو
په دې وطن کښې خپل عزت غواړو

کۀ دا يو جرم دے نو جرم سهي
مونږ ته خپل مشر خپل جانان وئيلې
په خپله خاوره عياشي نۀ منو
په هر موسم به پسرلي راولو
بې شکه تن مو دې ټوټې ټوټې شي
د دې وطن نه به اغيار وباسو
خو يو قدم د پېرنګي نۀ منو
په دې وطن به خوشحالي راولو

کۀ خپل کلتور مو شاته وغورځو
دا خوشحالي ده پښتانۀ يو ځائے شول
بچي به وائي چې غېرت څۀ وي لا
اوس دې اغيار د تېښتې لار ګوري
کۀ د حجرې جومات عادت مو نۀ کړل
داسې به پاک کړو د وطن د دوي نه
سبا به وائي چې عزت څۀ وي لا
کۀ بيا راځي ځان ته به کار ګوري

راځئ خپل ځان ته خپل منزل جوړ کړو
امجده خاورې دې سپېرۀ رقيب شي
را روان کهول ته مستقبل جوړ کړو
چې خوشحالي مو د وطن نصيب شي